ډاکټر خسرو سنګروال ۲۰۱۱/۰۹/۳۰

# د برهان الدين رباني وژنه د چا په سياسي ګټه تمامه شوه

تيره اونی د افغانستان د سولي د لوړې جرګې مشر او دافغانستان د اسلامي جمعيت سرلاری برهان الدين رباني، په هغه څه کې چي د چارواکو له خوا يو ځانمرګی ترهګريز بريد وبلل شو، ووژل شو. د برهان الدين ربانی د مړيني پړه لا چا په غاړه نه ده اخيستې. د طالبانو خوځښت چي په تيرو لسو کلونو کي يې نږدې د ټولو ناپوځي وژنو پړه بې له ستړه په غاړه اخيستي ده، هم د برهان الدين رباني د وژني غمازي نه ده منلې.

تر اوسه پورې د نوموړي د وژني په تور بيلابيلو اړخونو ته د تور ګوتي نيول شوي دي. ډيري خلک د ده وژنه د طالبانو کار بولي، او نور بيا د پاکستان څارګري ډلي په دې وژنه ملامت بولي. ځيني يې په هيواد د ننه د کومي دسيسي پايله بولي او ځيني د شمالي ټلوالي د ننني تربګنی د دې وژني آري لامل بولي.

خو څومره چي په دې وژنه باندې شپې تيريږي د دې پوښتني ارزښت کميږی چي نوموړی چا وژلی دی، بلکي کومه پوښتنه چي ځواب ته لا ډيره اړتيا ښکاروي هغه دا ده چي د سپين ږيري برهان الدين په مړينه کي چا ډيره ګټه وکړه؟

ددې پوښتنی د ځوابولو اسانه لار به دا وي چي لومړی دا وګورو چي پدې وژنه کي غټ سياسي تاوان چا ته واوښت؟ په افغانستان کي کوم سياسي اړخ چي د رباني د وژني له ټپه ډير سياسی زيان پورته کړ هغه د حامد کرزي سياسي پنډغالی دی. ويل کيږلی شي چي حامد کرزي د خپلي روغي جوړې د سياست د ملا تير له لاسه ورکړ. ولسمشر په برهان الدين رباني کي ډيره سياسي پانګه اچولې وه، او په تيرو څو کلونو کي يې رباني د خپلو سياسی لوبو د يو لوبغاړي په توګه ښه ولوباوه. ځيني به په دې اند وي چي برهان الدين رباني د کرزي د سيال لوري سياسي رهبر واو د کرزي سړی يې بلل ناسمه ده، خو ربښتيا دا دي، که چيرته څوک د برهان الدين رباني پنځه ديرش کلني مخيني ته وګوري، نوموړی هيڅکله د يو خپلواک او ټينګ سياسي اند څښتن نه دی پاتي شوی. که ډير وړاندې لاړ نه شو، نوموړي له ۱۹۹۲ کال نه تر ۲۰۰۱ کال پورې په عملي توګه د شورای نظار د وژل شوي قوماندان احمد شاه مسعود سياسي يرغمل و. د ده د دې پير ټولي پريکړې د يو ځانګړي سياسی فکر د لارويانو له خوا کيږلي او د ده له آدرس نه په خلکو تپل کيدلي. برهان الدين رباني چي په خبرو کې پوست خو په فکر کي وروست سړی و، و نه شو کولی دا ډله چي له ده نه يې ناوړه استفاده کوله ، وننګوي.

له ۲۰۰۱ نه په راوروسته کلونو کي چي احمد شاه مسعود نور ژوندی نه و، حامد کرزي وشول کولی چي د وخت له تيريدو سره برهان الدين رباني له خپل سيال پنډ غالي نه ځان ته راواړوي. کله چي کرزي برهان الدين رباني د سولي د لوړې جرګې مشر وګماره ډير خلک ايښ شول، او دا يې د سولي بهير سره ټوکه وبلله. خو وخت وښودله چي کرزي په دې انتخاب کي لويه ګټه دا وکړه چي د دولت د سولي دکړنلارې منتقدين يې، چي د رباني پخواني لارويان ول، پخ کړل. رباني هم د ژوند تر اخرې شيبې د کرزي کړنلارې سره ولاړ پاتي شو او د خپل ژوند په اخره شپه يې د حامد کرزي په نيمه خوله وينا خپل باندنی سفر پريښود، او د خپلو وژونکو ګوتو ته يې ځان کابل ته ورساوه.

اوس چي رباني له ډګر نه وويستل شو د سولي د کړنلارې د منتقدينو دا منطق لا پياوړی شو چي طالبان د روغي جوړې خلک نه دي. د رباني مړيني سره د حامد کرزي د حکومت بنسټيزه کړنلاره چي پر بنسټ يې ده خپل دويم ټاکنيز کمپاين چلولی و، مرګونی ګوزار وخوړه . په ځای به وي چي وويل شي په دې سياسي وژنه کي تر ټولو غټ سياسي زيان حامد کرزي ته ورسيد . بل زيان به يې کرزي ته دا وي چي د سپين ږيري برهان الدين ځای به کوم ځوان او له انرژي ډک جمعيتی و نيسي، او ننني شيندلی ګوند به د حکومت په يو پياوړي اپوزيسيون کي منظم کړي.

د طالبانو غورځنګ هم د رباني مړينه کي ډيره ګټه و نه کړه. که کومه سمبولي ګټه يې کړي وي هغه ډيره وړه ده او دوخت تيريدو سره هيريږی. ناسمه به نه وي چي وويل شي چي طالبانو د رباني په مړينه کي تاوان کړی دی. طالبانو د سولي د جرګې نه ډيرې ستراتيژيکي ګټې پورته کړې دي. نړيوالي ټولني چي د دې جرګې له لارې په مليونونو



افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزی ښي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په خير و لولئ

ډالره لګولي دي، يوه برخه يي د طالبانو تر جيبونو هم رسيدلي ده، چي د جرګي له ړنګيدو نه وروسته به دا آميانی هم وترل شي.

د دي تر څنګه که څه هم طالبان د سولي نه کولو په درېځ کي په ښکاره سرتمبه ښکاري، خو په رښتيا طالبان د سولي جرګي ته د يوې لارې په توګه هيله من ول. ډېر طالبان د دې جرګي له لارې د امتيازونو په تر لاسه کولو سره له زړو ليکو بېل شوي دي. د طالبانو مشرتابه د پوځي تنګسيا په مهال کي له دې جرګي نه د يو تکتيکي مانور لپاره کار اخيستلی شو، او په ځينو سيمو کي دا کار اخيستل شوی هم دی. د رباني وژني طالبانو ته له ګټي نه تاوان ډېر رسولی دی.
د پاکستان دولت او ځارګرې اداري، چي کلونه د افغانستان د سياستوالو په وژلو کي يي خپل ستراتيژيک ژوروالی ليدلی دی، هم د برهان الدين رباني په مړينه د ځان په ګټه ډېر کوچ نه دي ايستلي. البته دا په دې مانا هم نه ده چي پاکستان به د برهان الدين په مړينه کي لاس ونه لري. کېدای شي دا وژنه د پاکستاني ځارګرو په زيار شوي وي، خو که ژور ورته وکتل شي پاکستان له دې وژني نه ډېره ګټه نه ده پورته کړې.

که چا د برهان الدين رباني د تېرو څو کلونو بوختياوې له نږدې ځارلي وي پوهېږي چي رباني شخصاً څومره پاکستان ته نږدې شوی و. اسلام اباد ته د خپل تېر سفر په ترڅ کي برهان الدين رباني پاکستاني رسنيو سره يو لړ مرکي وکړې، او بيا بيا يي د دې ناباوری د لرې کولو هڅه وکړه چي دی او ګوند يي پاکستان ته نېک نيت نه لري. نوموړي يو ځل بيا پاکستان خپل دويم کور وباله. د پاکستان حکومت هم د متقابلي نېک نيتی له مخي په پېښور کي د برهان الدين رباني سرکاري شوي جايدادونه بېرته ورپرېښودل.

د پاکستان د جنګ اردو ژبي ورځپاڼي خبريال او شنونکی سليم ساپي په همدې ورځپاڼه کي د خپلي تېرې اونی په کالم کي وليکل چي رباني د ده په لاس د پاکستان لوړپوړو چارواکو ته د دوستی او سپين زړه پيغامونه استولي ول. سليم ساپی چي د پاکستان ستبلشمنت ته ډېر نږدې سړی بلل کېږي، دا هم ليکلي دي چي رباني نو زياتي د پاکستان يو دوست سړی و.
که هر څه ول، رباني نو نور پاکستان ته يو ګواښ نه و، بلکي شمالي ټلوالي ته د وررسېدو، او ورسره د نږدې باتي کېدو او د خپلو اوږد مهالو کړنلارو د پلي کولو ښه اورسی وه. د دې اورسی له لاسه ورکول د پاکستان لپاره په هېڅ ډول ګټوره نه وه. د برهان الدين رباني او پاکستان تر منځ همدا وروستی ښې اړيکي به وي چي د اسلامي جمعيت او رباني تر ټولو وفادار او په خبره پوه شخصيتونه، لکه عطا محمد نور، په پاکستان باندې د رباني د وژني د تور لګولو نه ډډه کړې ده.
د افغانستان د روان کړکېچ يواځينی اړخ چي له دې وژني نه يي تر اوسه پوري سياسي ګټه پورته کړې ده، او نږدې راتلونکي کي به ترې لا ډېره سياسي ګټه پورته کړي هغه د افغانستان حکومت سياسي سيالان، د تغير او امېد ټلواله، او د شمالي ټلوالي بيا راپورته شوي غړي دي. د تېرې اونی پېښنو وښودله چي يادو شوو څېرو د برهان الدين رباني مړيني نه تر دې کچي پوري د سياسي ګټي پورته کولو هڅه وکړه چي ځينو دا کار د رباني مړي او د ده غمجني کورنی ته سپکاوی وباله. کتونکو په ياد کړه چي د تغير او امېد ډلګی وتلي څېرې چي د رباني په مړينه يي تر ټولو ډېر وير وکاوه، د رباني د ژوند په وروستيو کي يي نوموړی په دې ملامتاوه چي د کرزي په ګوتو لوبول کېږي او د کرزي د سولي ناکامه پاليسي چلوي. خو اوس نوموړې ډله هغه ټولي ګيلي هېروي او د رباني په مرګ د غمجنو وګړو له احساساتو نه د ځان په ګټه کار اخلي.

بله دا چي د رباني په وژني د دې ډلي د سولي د نه منلو چغو لا پسي زور واخيست. په دې ډله کي ځيني داسي کسان هم شته چي د برهان الدين وژني ته د ځان لپاره په اسلامي جمعيت کي مشرتابه ته د رسېدو د فرصت په سترګه ګوري.
لنډه دا چي که برهان الدين رباني هر چا وژلی وي، مړيني يي ځينو ته تصادفي ګټي او نورو ته تصادفي تاوانونه ورسول. خو هغه څوک چي ترې په فعاله توګه ګټه پورته کوي، پرې تر هر چا لږ د داسي کولو شک کېده.

پای



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ